# پښتو کښې د تدوین متنِ روایت

## A tradition of textual criticism in Pashto

Dr. Abdullah Jan Abid*

**Abstract:**

The Tradition of textual criticism began in 1938 in Pashto when Abdul Hai Habibi edited, for the first time in the history of Pashto language and literature, kuliaat (collection) of classical Pashto poet, Khushal Khan Khattak. After this the tradition of textual criticism flourished here and many volumes of poetry and prose were edited. This paper aims at evaluating volumes of classical prose, various davaveen (classical poetry collections), and other edited books of poetry in the light of established principles of textual criticism. Drawing upon the frame works developed in the area of textual criticism, this study evaluates works related to different genres of Pashto literature produced between 1938 and 2009. It shows that most of works follow the principles of textual criticism with some of them that lack quality.

د پښتو کلاسیکي متونو د چاپ او نشر سلسله په نولسمه پېړۍ کښې شروع کېږي، په شلمه پېړۍ کښې د ودې، پراختیا او پر مختیا له پړاوونو څخه تېرېږي او د یوېشتمې پېړۍ په درشل قدم ږدي. د نولسمې پېړۍ په ځینې چاپي کلاسیکي متونو کښې د رحمان بابا، حمید بابا او پیر محمد کاکړ دیوانونه، د اخوند درویزه مخزن او د عبد القادر خټک یوسف زلیخا دذکر وړ دي. دغسې په دغه پېړۍ کښې د ځینو کلاسیکي متونو منتخبات هم د مستشرقینو له خوا چاپ شوي او خپارۀ شوي دي چې پکښې د ډورن پښتو منتخبات (1847ء)، د راورټي ګلشن روه او دپادري هیوز کلیدِ افغاني (1872ء) په خاص طور دیادؤني وړ دي. په 1870ء کښې د خوشَحال مکمل دیوان د ډاکټر بیلیو په اهتمام د پېښور په جېل پریس کښې چاپ شوی دی. دې ته د جېل چاپ دیوان هم وئیلی

* Dr Abdullah Jan Abid, Assistant Professor, Pakistani Languages, Allama Iqbal Open University, Islamabad

شي . بیا په 1877ءکښې د رحمان بابا دیوان د پادري هیوز په اهتمام په لاهور کښې شائع شوی دی، چې متن ئې د تنګي مولوي احمد د څو نسخو له مخې تهیه کړی ؤ. دا د رحمان بابا د دیوان څلورم چاپ دی او ددې نه وړاندې دغه دیوان په ترتیب سره په 1856ء، 1860ء او 1866ء کښې په دهلي او بمبۍ کښې هم چاپ شوی دی.

د شلمې پېړۍ په دویمه لسیزه کښې چې کوم مهم کلاسیکي متون چاپ شوي دي، په هغو کښې یو معروف متن د مېرزا خان انصاري دیوان دی چې د ملا جان محمد او ملا بسم الله جان (تاجران کتب قندهار) په فرمائش په ۱۹۱۵ء کښې په اسلامیه پریس لاهور کښې د "دیوان میرزا هد" په نوم چاپ شوی دی. د دغه متن په ځینو مخونو توضیحي او تشریحي حاشیې په فارسي

ژبه لیکلی شوي دي. د دیوانِ مېر زاهد له چاپ څخه تقریباً پنځه کال پس یعني په ۱۹۲۰ء کښې د رحمان د دیوان یو متن په پېښور کښې خور شوی دی، چې محترم عارف غروال ورته " د پېښور قصه خوانۍ چاپ" وائي. په دغه دیوان کښې ټول ۳۲۱ پاړکي راغلي دي، د بېتونو شمیر ئې ۳۲۰۳ دی او په دؤو دفترونو مشتمل دی.

وروستو له دغو چې د پښتو کوم متون چاپ شوي او خپاره شوي دي، په هغو کښې یو معروف متن د خوشحال خټک دیوان دی، چې په ۱۹۲۸ء کښې د میا حاجي محمد او عبدالرحمن تاجران کتب په فرمائش په مطبع رحماني خواجه ګنج هوتي (مردان) کښې چاپ شوی دی. دې دیوان ته "د هوتي چاپ" هم وئیلی شي. دا د خوشحال د دیوان دویم چاپي متن دی چې ۲۰۸ صفحات لري. ځینو محققینو د دې دیوان د چاپ نېټه ۱۹۲۹ء ښودلې ده، خو د دیوان په اخري مخ [۲۰ مخ] ۱۹۲۸ء کال په واضحه توګه درج دی. زمونږ په ادبي منابعو کښې وئیلی شوي دي، چې د دې متن په پېل کښې د مولانا عبدالمجید افغاني مقدمه هم راغلې ده، خو دغه مقدمه د هوتي اول چاپ سره نۀ، بلکې دویم چاپ سره راغلې ده، ځکه چې د مقدمې په پای کښې د مولانا عبدالمجید افغاني د نوم د اندراج نه وروستو د مقدمې د لیک نېټه هم

ورکـړی شـوې ده، چـې ۲۲ نـومبر ۱۹۲۹ء ده او ۱۹۲۹ ء د دغـه مـتن د دوېم چـاپ، کـال هم دی. د هوتي چـاپ په بـاب بـایـد دا خبره هم وشي، چې دغـه مـتن د ډاکټـر بیلیـو د نسـخې (د جېـل چـاپ) عکـس نـهٔ، بلکـې دوبـاره کتابت شـوی چـاپ دی. ځکـه نـو د خط دود ئـې هـم د جېـل چـاپ سره تـوپیر لـري او پـه مـتن ئـې هـم دوبـاره نظر شـوی دی چې ځینې ناسم ځایونه پکښې سم کړی شوي دي خو ځینې سم ځایونه پکښې وران کړی شوي هم دي.

د جېـل چـاپ نسـخې یـو انتخـاب هـم پـه دغـه دور کښـې "د انتخـاب دیـوانِ خوشـحال خـان خټـک بزبـانِ افغـاني وفارسـي "پـه نـوم، د دیـوان کهـړک سنګهـ(تاجر کتـب پشـاور) پـه فرمـائش پـه مطبـع کریمـي لاهـور کښـې چـاپ شـوی دی. دا انتخـاب پـه دؤ برخـو مشـتمل دی، چـې ټـول مخونـه ئـې ۱۲۸ دي او د اشاعت کال پرې نهٔ دی درج.

وروسـتو لـه دغـو متونـو پـه ۱۹۳۲ ء کښـې د حـافظ الپـورئ دیـوان د قاضـي عبدالسـلام پـه زیـار پـه حجـازي پـریس لاهـور کښـې چـاپ شـوی دی. قاضـي صـاحب دغـه دیـوان د کاکـا خېـل قـوم د رئـیس اعظـم محتـرم خـان بهـادر مشـرف شـاه پـه تحریـک راغونـډ کـړی ؤ چـې پـه ۱۴۰ غزلـو مشـتمل دی. د حـافظ الپـوري د دیـوان دا چـاپ نسـخه وروسـتو قاضـي عبدالسـلام صـاحب د یـوې بلـې نسـخې سـره مقابلـه کـړه او تصـحیحات ئـې پکښـې وکـړل. دغـه بلـه نسـخه د معـین الـدین خـان حـاکم غـور بنـد ملکیـت ؤ، چـې د هغـې وخـت د ریاسـت سـوات د یـو وزیـر حضـرت علـي خـان پـه توسط قاضـي صـاحب تـه ترلاسـه شـوې وه (۲) د حـافظ د دیـوان دغـه تصـحیح شـوې نسـخه (ایډیشـن) بیـا پـه ۱۹۴۰ ء کښـې سـره د قاضـي عبدالسـلام د یادښـت او حاشـیو چـاپ شـوه. ددغـې چـاپي نسـخې حاشـیې تشـریحي او توضـیحي رنـګ لـري خـو د نسـخه بـدلو اهتمـام پکښـې نـه ترسـترګو کیـږي. د حـافظ دغـه دیـوان بیـا پـه ۱۹۴۷ء، ۱۹۵۵ء او ۱۹۲۰ء کلونـو کښـې هـم چـاپ شـوی دی. پرتـه د حـافظ د دیـوان نـه قاضـي صـاحب د علـي خـان دیـوان هـم پـه ۱۹۳۹ء کښـې د لاهـور پـه حجـازي پـریس کښـې چـاپ کـړی دی او دا د علـي خان د دیوان وړومی چاپي متن دی.

تراوسه چې د پښتو متونو څومره قدیمي چاپونه ذکر شول، دغه زیات تر په عمومي توګه خپارهٔ شوي دي. د تدوین د اصولو او موازینو پیروي پکښې نهٔ لیدی کېږي. البته چرته خال خال په ځینو متنونو کښې د نسخه بدلو یا حاشیو وغیره اهتمام تر سترګو کیږي، د مثال په طور د ډورن د منتخباتو په هغه برخه کښې نسخه بدلې ورکړی شوي دي، په کومه کښې د رحمان بابا د کلام انتخاب راغلی دی او دغسې د حمید د دیوان د ۱۲۸۲ هـ چاپ نسخه کښې هم ځینو غزلو ته په حاشیو کښې توپیري ټکي ورکړی شوي دي (۳) یا دیوانِ میر زاهد، دیوان حافظ الپوري او ځینو نورو باندې توضیحي حاشیې لیکلی شوي دي خو په منظم ډول د تدوین د اصولو او شرائطو پیروي په دغو متونو کښې ناپید ده.

په پښتو کښې د متن څېړنې د روایت باقاعده اغاز د شلمې پېړۍ د څلورمې لسیزې په اخري کلونو کښې شوی دی او د ” خوشحال ختک مرغلرې ” د دغه روایت اولنۍ کړۍ ده، چې په ۱۹۳۸ ء کښې د علامه حبیبي په څېړنه او سمونه نشر شوې ده. بیا په دغه اولنۍ کړۍ پسې په همدغه کال د عبدالقادر ختک دیوان، په ۱۹۴۰ء کښې د احمد شاه ابدالي دیوان او پرې پسې په ۱۹۴۴ء کښې د پټې خزانې تدوین شوی متن، د پښتو متن څېړنې د روایت هغه کړۍ دي، چې هم علامه حبیبي د یو بل سره نښلولې دي. علامه حبیبي د دغه متونو د تدوین په وخت هڅه کړې ده چې د تدوینِ متن اصول او شرائط په نظر کښې وساتي – خو بیا هم د خوشحال خان ختک او د عبدالقادر خان ختک په دیوانونو کښې ځینې ځایونه داسې ترسترګو کېږي چې یا خو هغه (لغتونه او ترکیبونه) ژباړلي شوي دي یا د هغو له پاره مترادفات لټولی شوي دي – او دا فعل داسې دی چې د متن څېړنې په دنیا کښې د مصنف د منشا خلاف ګڼلی شي.

د محترم حبیبي د دغو تدویني کارونو نه پس په ۱۳۲۵ هـ ش / ۱۹۴۶ ء کښې د پیر محمد کاکړ دیوان د محترم عبدالرؤف بېنوا په تصحیح، مقابله او مقدمه د پښتو ټولنې کابل له خوا چاپ شوی دی، چې متن ئې د دؤو خطي او یوې زړې چاپي نسخې له مخې ترتیب کړی شوی دی او د متن په پای کښې ئې د مولانا ابو الوفا د نسخې هغه

اضافي کلام هم ورکړی دی کوم چې د متن په استفاده شوؤ نسخو کښې نۀ وو راغلی. دغه نسخه محترم ابوالوفا هغه وخت د هند نه کابل ته استولې وه کله چې د مذکوره دیوان د ترتیب، تهذیب او تصحیح کار مکمل شوی ؤ (۴). د دیوان په مقدمه کښې د پیر محمد کاکړ د ژوند او کلام د مطالعو نه علاوه د نسخو تعارف، د اساسي نسخې وضاحت، د متروکو لفظونو او لیک دود مباحث هم راغلي دي او په متن کښې ئې د حاشیو اهتمام هم شوی دی، چې د نسخو بدلو سره سره نور متني وضاحتونه هم لري. د کاکړ د دیوان نه پس په ۱۳۲۸ هـ ش/۱۹۴۹ء کښې ښاغلي بېنوا د رحمان بابا دیوان هم د دریو نسخو له مخې چاپ کړی او نشر کړی دی.

دې نه پس باید دا ووئیلی شي چې د خوشحال خټک مرغلرې نه تر د رحمان بابا د دیوان پورې،د تدوین دغه درنې چارې یوائې د پښتنو په یوه حوزه (افغانستان) کښې ترسره کولی شوې، خو تر دې وروستو د دغې لړۍ کړۍ د پښتنو تربلې حوزې (کوزه پښتونخوا) وغزیدې او د شلمې پېړۍ په پنځمه لسیزه کښې دَ کوزې پښتونخوا متن پوهانو هم د متن څېړنې کار ته خاص توجه وکړه او دواړ غاړو ته د پښتو د پېر زاړۀ متون تصحیح، چاپ او نشر شول چې تفصیل ئې دا دی :

په ۱۹۴۹ء کښې ادارۀ اشاعت سرحد پېښورد رحمان بابا دیوان سره د مولانا عبدالقادر د مقدمې نشر کړی دی،چې وروستو په ۱۹۶۰ء او ۱۹۶۲ء کښې ئې دوه نور چاپونه هم د مذکوره ادارې له خوا مخې ته راغلي دي. د ۱۹۶۰ء چاپ سره د محترم دوست محمد خان کامل مرتب کړی فرهنګ هم ورکړی شوی دی خو د ۱۹۶۲ء چاپ کښې د مذکوره فرهنګ ځای بل یو فرهنګ نیولی دی چې د مرتب د نوم اندراج نۀ لري. دغه دیوان یو ځل حاجي عبدالحلیم اینډ سنز (قصه خواني بازار پېښور) هم په منظور عام پریس پېښور کښې چاپ کړی دی، چې د چاپ کال پرې نۀ دی لیکلی شوی.

په ۱۹۵۱ء کښې د عبدالحمید مومند دیوان د محترم صدیق الله رشتین په مقدمه، تصحیح او اهتمام د پښتو ټولنې کابل خپور کړی دی

او هم په دغه کال په پېښور کښې د علي خان ديوان د سيد تقويم الحق کاکا خېل په شرح او مقدمه ادارهٔ اشاعتِ سرحد چاپ کړی دی. د دې متن په مقدمه کښې چې د علي خان د سوانح په باب کومه خاکه وړاندې کړې شوې ده، هغه د ديوان په داخلي شهادتونو متکي ده. دغسې په دغه مقدمه کښې چې د علي خان د کلام د مختلفو خواؤ کومه ژوره فني او فکري جائزه اخستی شوې ده او د متن په حاشيو کښې چې کوم تشريحات يا نور متني وضاحتونه ورکړی شوي دي، هغه ټول د مقدمه نګار په لوړ علمي، ادبي او تحقيقي حېثيت او بصيرت دال دي، خو متأسفانه په دغه مقدمه کښې نهٔ خو د متن ماخذ ښودلی شوی دی او نهٔ پکښې د متن د وړومبي چاپ يادؤنه شوې ده.

په ۱۹۵۲ء کښې ادارهٔ اشاعتِ سرحد، پېښور، د سکندر خان خټک ديوان نشر کړی دی، چې متن ئې محترم دوست محمد خان کامل د واحدې نسخې له مخې چاپ ته اماده کړی دی. د ديوان په پېل کښې مدون د متن خطي نسخه معرفي کړې ده او بيا په مقدمه کښې ئې د سکندر خان خټک په ژوند او فن رڼا اچولې ده او متن ته ئې په ضروري مواردو کښې حاشيې هم ليکلې دي، چې د ګرانو لفظونو او ترکيبونو معنې پکښې ښودلی شوي دي. د سکندر خان خټک دا ديوان په 1962ء کښې بيا هم چاپ شوی دی.

په ۱۹۵۲ء کښې د پښتو نور څلور کلاسيکي متون هم د چاپ ډګر ته راوتلي دي. په دغو متونو کښې د خوشحال خټک کليات د محترم دوست محمد خان کامل په تدوين، فضل نامه او دستار نامه د محترم عبدالشکور په زيار او د کاظم خان شېدا ديوان د محترم عبدالرؤف بېنوا په تدوين شامل دي. په دغو څلورو واړو متونو کښې د خوشحال خان کليات په تدويني حواله ډېر ارزښت لري. مدون د مقدمې څخه وړاندې د خپل تدويني کار د طريقِ کار وضاحت کړی دی – بيا ئې په کليات مقدمه ليکلې ده چې ډېر درانهٔ علمي، تحقيقي او تنقيدي مباحث لري – مدون د کليات متن هم ډېر په احتياط سره مرتب کړی دی. حاشيې ئې پرې ليکلې دي او د متن تخريجي امورو ته ئې هم توجه کړې ده.

په **۱۹۵۳** ء کښې د خوشحال خټک بازنامه پښتو ټولنې کابل د محترم صدیق الله رشتین په تصحیح او اهتمام چاپ کړې ده. دا د بازنامې ورومبی چاپي متن دی ، چې د واحدې نسخې له مخې تهیه کړی شوی دی – په دې متن کښې ځینې برخې د مصنف د منشا مطابق نهٔ دي رانقل کړې شوې ځکه نو په اشعارو کښې ئې ځای په ځای فني کمزورۍ ترسترګو کېږي .

په **۱۹۵۴** ء کښې پښتو ټولنې کابل د شمس الدین کاکړ دیوان چاپ کړی او خپور کړی دی، چې مقدمه نګار او مصحح ئې محترم عزیز الله واصفي دی. د دیوان د پېل په یو مخ د محترم صدیق الله رشتین یادؤنه راغلې ده او مقدمه د متن په پای کښې ورکړې شوې ده، چې یوائې د مصنف د فکر وفن په باب مباحث پکښې راغلي دي او د متن د ماخذ یا ماخذونو او نور و تدویني امورو په باب پکښې هېڅ نهٔ دي وئیلی شوي. دغسې متن د فرهنګ له اهتمام څخه هم محروم دی.

په **۱۹۵۵** ء کښې مکتبه سرحد ، پېښور "دیوانِ کامګار خان خټک" د سید تسنیم الحق کاکا خېل له مقدمې او شرحې سره خپور کړی دی.

په **۱۹۵۷** ء کښې کابل مجلې د حنان باز کزي دیوان چاپ کړی دی چې د پېل په یو مخ ئې د محترم ګل باچا الفت یادؤنه او پرې پسې په دربو مخونو ئې د حنان بارکزئ په باب د محمد دین ژواک یوه لیکنه راغلې ده، چې ببخې عمومي رنګ لري او د متن د ماخذ په باب پکښې هېڅ نه دي وئیلی شوي، پرته له دې، متن له فرهنګ څخه هم محروم دی.

په هم دغه ذکر شوي کال دا درې زاړه متون هم خپارهٔ شوي دي: دیوانِ بېدل، دیوانِ معزالله خان مومند او قصه د شاه وګدا . دغه درې واړه متون د محترم همېش خلیل په تدوین چاپ شوي دي. دیوان بېدل ادبي ټولي پېښور او دیوانِ معزالله خان مومند ادارهٔ اشاعت سرحد خور کړی او په قصه د شاه وګدا باندې د اشاعتي ادارې نوم نهٔ دی درج اونهٔ ئې په مقدمه کښې ماخذ ښودلی شوی دی. دلته دې دا خبره یاده وي، چې دیوان بېدل په اول ځل محترم همېش خلیل کشف کړی دی.

په ۱۹۵۸ء کښې د مولوي محمد ایوب په زیار د بیاض دیوان د پېښور په جهانزیب پریس کښې چاپ شوی دی،چې متن ئې د یوې نیمګړې نسخې له مخې ترتیب کړی شوی دی. د دغه متن په پېل کښې د مولوي محمد ایوب مقدمه او په پای کښې د محمد امین ګل تبصره راغلې ده. د دې متن د هر مخ په حاشیو کښې هغه پښتو ټکي هم ورکړې شوي دي کومې چې د خطي نسخې په څنډو درج وې.

په هم دغه مذکوره کال "دراومرجان" (دیوانِ عبدالحمید) یونیورسټي بک ایجنسي پېښور چاپ کړی دی، چې متن ئې د دؤو چاپي نسخو (د ملا عبدالغفار قندهاري د لاهور چاپ نسخه او پښتو ټولنې کابل چاپ نسخه) له مخې تیار کړی شوی دی، خو د متن په حاشیو کښې ئې نسخه بدلې نۀ دي ښودلی شوي. البته مقدمه ئې په زړۀ پورې ده او په پای کښې ئې فرهنګ هم ورکړی شوی دی. د دې دیوان مدون سید انوارالحق دی.

هم په ۱۹۵۸ء کښې پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټۍ د معزالله خان مهمند دیوان د ”دیوانِ معزالله خان مهمند مسمیٰ به آئینه معنی نما " په نامه د محترم خیالؔ بخاري په تدوین نشر کړی دی. د مولانا عبدالقادر او د مدون د بیانونو تر مخه دغه متن د هغې نسخې له مخې تهیه کړی شوی دی، چې مصنف په خپل قلم لیکلې ده او د هغه لاس لیک (دستخط) او مهر پرې ثبت دي. (۵) دا متن ډېرې تدویني ښېګڼې لري. مقدمه ئې د تدوین له شرائطو سره سمه ده، د متن او صاحبِ متن په باب تنقیدي او سوانحي بحثونه پکښې هم شوي دي او د خطي نسخې بشپړ متني معارض، مواقف او محاسن پکښې ښودلی شوي دي. په دغه تدوین شوي متن کښې یو بل ښۀ کار دا شوی دی چې د خطي نسخې د اول او اخر مخونو عکسونه پکښې ورکړی شوي دي. متن ځانګړی فرهنګ نۀ لري، خو د هر مخ په حاشیو ئې د ګرانو لفظونو معنې لیکلی شوي دي.

په ۱۹۵۸ء کښې دیوانِ اشرف خان هجري، دیوانِ سعید او دیوانِ حسین هم چاپ شوي دي. دیوانِ هجري ادبي ټولي پېښور او دیوانِ سعید

او دیــوانِ حســین دارالتصــنیف خپــارهٔ کــړي دي چــې د دریــوارو متونــو د تصحیح تهذیب او ترتیب اعزاز د محترم همېش خلیل په برخه دی.

دیــوانِ هجــري د دریــو خطــي نســخو (۲) لــه مخــې تهیــه کــړې شــوی دی چې پـه مقدمـه کښـې ئـې ملکیـت ښـودلی شـوی دی، خـو بشـپړ تعـارف ئـې نـهٔ دی شــوی. البتــه د اشــرف خــان هجــري د ژونــد حــالات او د هغــه د فکــرو فــن مباحــث پکښــې پــه بشــپړه توګــه راغلــي دي. د مــتن پــه پــای کښــې د ګرانــو لغتونـو د حـل لـه پـاره فرهنـګ هـم مرتـب کـړې شـوی دی، خـو مـتن د نسـخه بدلو د حاشیو له اهتمام څخه محروم دی.

دیــوانِ ســعید د واحــدې نســخې (۷) لــه مخــې ترتیــب کــړې شــوی دی،چې پـه مقدمـه کښـې ئـې ملکیـت هـم ښـودلی شـوی دی او پـه لیـک دود او ځینـو کوائفـو ئـې هـم خبرې شـوي دي. دا مـتن هـم مـدون پـه اول ځـل کشـف کــړی دی، ځکــه چــې تردغــه دمــه ئــې ذکــر زمــونږ د ادبــي تــاریخ پــه منــابعو کښــې نــهٔ ؤ راغلــی. د دې مــتن دوېــم ایډیشــن پــه **۱۹۲۴** ء کښــې چــاپ شــوی دی، چــې څلــور غزلــې پکښــې هــم اضــافه شــوي دي (۸) او د مقــدمې ځینــې تېروتنــې پکښــې هــم ســمې کــړې شــوي دي خــو د مــتن دغــه دواړه ایډیشــنې د فرهنګ له اهتمامه محرومې دي.

دیـوان حسـین هـم د واحـدې خطـي نسـخې(۹) لـه مخـې مرتـب کـړې شـوی دی چـې د نسـخې د حصـول پـس منظـر ئـې پـه تفصـیل سـره پـه مقدمـه کښـې بیــان شــوی دی، دا هــم د مــدون د متنــي انکشــافاتو دلــړۍ یــو بلــه کــړۍ ده،خو په دې کښې هم فرهنګ جوړولو ته توجه نهٔ ده شوې.

پــه **۱۹۵۹**ء کښــې د پېښــور پښــتو اکېډمــۍ د مصــري خــان ګګیــاڼي دیـوان او د صـدر خوشـحال ادم خـان درخـانۍ چـاپ کـړي دي. د مصـري خـان ګګیـاڼي دیـوان خیـال بخـاري د واحـدې نسـخې لـه مخـې چـاپ تـه امـاده کـړی دی. دا چـاپ پـه پېـل کښـې د مولانـا عبـد القـادر یـوه ممتـع یادؤنـه لـري. د مـدون لـوړه علمـي او ادبـي مقدمـه هـم ورسـره ملـهٔ ده چـې د شـاعر د ژونـد او فـن د مبـاحثو سـره سـره پکښـې د مـتن د خطـي نسـخې بشـپړ خصوصـیات هـم بیـان شـوي دي. مـتن لـه پـاره فرهنـګ نـهٔ دی مرتـب کـړي شـوی، خـو پـه ضـروري مـواردو کښـې د مـتن پـه حاشـیو کښـې د ګرانـو لفظونـو او ترکیبونـو

معنــې ښــودلی شــوي دي. د صــدر خوشــحال د ادم درخــانۍ مــتن د محمــد نــواز طــائر د دیبــاچې او مولانــا عبــدالقادر لــه یــادونې سره نشر شوی دی چې بیــا پــه ۱۹۸۱ ء او ۱۹۸۹ ء کلونــو کښــې هــم مــذکوره ادارې چــاپ کــړی او خور کړی دی.

د مــرزا خــان انصــاري دیــوان هــم پــه دغــه ۱۹۵۹ء کښــې د همــېش خلیــل پــه تــدوین دارالتصــنیف پېښــور نشــر کــړی دی، چــې مــتن ئــې د یــوې نیمګــړې نســخې لــه مخــې تیــار کــړی شــوی دی او پــه هــم دغــه کــال، مــذکوره ادارې د عبدالعظیم بابا دیوان هم چاپ کړی دی، چې مدون ئې نصرالله خان نصر دی.

پــه ۱۹۲۰ء کــال کښــې دیــوانِ قنبــر علــي خــان هــم دارالتصــنیف پېښــور د واحــدې خطــي نســخې لــه مخــې نشــر کــړی دی چــې مــدون ئــې محتــرم همــېش خلیــل دی. دغــه نســخه د مــدون د وینــا تــر مخــه نیمګــړې هــم وه او مغلوطــه هــم (۱۰)، خــو مــدون پــه خپــل زیــار او خــوارۍ ســمه کــړې ده او د اصــل مغلــوط عبــاراتو اطــلاع ئــې پــه حاشــیو کښــې ورکــړې ده. پــه ۱۹۷۲ ء کــال کښــې د دې مــتن دوېــم ایډیشــن هــم ســره د اضــافو چــاپ شــوی دی چــې فرهنــګ هــم پکښــې ورکــړې شــوی دی، او د مــتن تخریجــي امــورو تــه پکښــې هــم تــر یــوه حــده توجــه شــوې ده، خــو د قنبــر علــي پــه دیــوان کښــې چــې کــوم نومونــه راغلــي دي څــۀ بــه ښــه وه کــۀ هغــو لــه پــاره اشــاریه (Index) هــم پــه دې ایډیشــن کښــې مرتــب کــړې شــوې وې. د قنبــر علــي د دیــوان د چــاپ پــه کــال پــه کابل کښې د پټې خزانې دوېم ایډیشن هم چاپ شوی دی.

پــه ۱۹۲۱ء کښــې پښــتو اکېډمۍ پېښــور یونیورســټۍ د محتــرم خیــال بخــاري پــه تــدوین د عبــدالقادر خټــک "ګلدســته" شــائع کــړې ده چــې مــتن یــې د مولانــا عبــدالقادر (۱۱) د وینــا تــر مخــه د یــوې قلمــي نســخې او د محتــرم خیــال بخــاري (۱۲) د بیــان تــر مخــه د دؤوقلمــي نســخو لــه مخــې ترتیــب کــړی شــوی دی، خــو د مــتن پــه مقدمــه کښــې د مــذکوره خطــي نســخې یــا نســخو تعــارف نــۀ دی ورکــړی شــوی، البتــه د مقــدمې نــور منــدرجات پــه زړۀ پــوري دي او د مــتن د ترجمــې د څرنګــوالي پــه بــاب پکښــې درانــۀ مباحــث ســره د مثــالونو راغلــي دي. د مــتن پــه اهمیــت او ارزښــت پکښــې هــم خبــرې شــوې دي او د مصــنف پــه بــاب پکښــې غنیمــت معلومــات ورکــړی

شوي دي. د متن په حاشیو کښې په مختلفو مخففاتو (ز، ح، ا) د زیاتو شوؤ، حذف شوؤ او د اصل متن نه د نورو منحرف شوؤ عبارتونو په باب اطلاعات ورکړی شوي دي. دغه متن په دویم ځل هم مذکوره اداري چاپ کړی دی.

په ۱۹۲۳ء کال کښې د پېښور پښتو اکېډمۍ د احمد شاه ابدالي او عبدالرحمان بابا د دیوانونه خپارهٔ کړي دي او پرې پسې په ۱۹۲۴ء کښې هم دغې اداري د کریمداد او میان نعیم دیوانونه هم د چاپ ډګرته را ایستلي دي، چې مدون ئې محترم خیال بخاري دی.

په ۱۹۲۵ء کښې دا لاندې متون شائع شوي دي:

۱- شاهنامه احمد شاه ابدالي: دغه متن پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټۍ شائع کړی دی، چې د شاعر نوم پرې حافظ لیکلی دی.

۲- دیوانِ خواجه محمد بنګش: دغه دیوان هم پښتو اکېډمۍ نشر کړی دی، چې مدون ئې خیال بخاري او مقدمه نګار ئې پریشان خټک دی.

۳- پښتو عروض: د میا شرف د پښتو عروضو دغه متن پښتو ټولنې کابل چاپ کړی دی، چې د کتنې او سپړنې اعزاز ئې د پوهاند رشتین په برخه دی.

۴- دیوانِ کاظم خان شېدا: د شېدا د دیوان دغه متن محترم همېش خلیل تدوین کړی دی او ادارهٔ اشاعتِ سرحد خپور کړی دی.

د شاهنامه احمد شاه ابدالي متن د برټش میوزیم لندن د قلمي نسخې په مائیکرو فلم متکي دی. د دغه متن په پای کښې درکن الدین ابن امیر یو نظم (درمدح مالک رقاب خلق الله احمد شاه) هم په ضمیمه کښې د ۲۱۱ مخ نه تر ۲۱۲ مخه پوري ورکړی شوی دی. د خواجه محمد بنګش دیوان د واحدې نسخې له مخې ترتیب کړې شوی دی خو د متن په دیباچه یا نورو یادؤنو کښې ئې د خطي نسخې تعارف نهٔ دی ورکړې شوی او یواځې په دې وینا اکتفا شوې ده چې: "مونږ ډېر خوشحاله شو چې د خواجه محمد بنګش د دیوان یوه قلمي نسخه تر مونږ راورسېدلهٔ" (۱۳) او بس. البته متن په دقت سره مرتب او تصحیح کړی شوی دی، چې د متني امورو د وضاحت له پاره د حاشیو اهتمام هم لري.

"د پښتو عروض" متن په واحده خطي نسخه اړه دی. د متن په پېل کښې کومې رسمي خبرې نۀ دي شوې او نېغ په نېغه متن پېل شوی دی خو د متن په پای کښې مفصله پلټنه او سپړنه ورکړې شوې ده، چې په ځلور د پر شو مخونو خپره ده. د دغې ليکنې وړومبۍ برخه د خطي نسخې تعارف، د مصنف سوانح، فکر او فن او د عروضو مباحثو ته وقف ده او دوېمه برخه دَ تعليقاتو له پاره مختص ده.

په ۱۹۶۶ ء کښې پښتو ټولنې کابل دخوشحال خان خټک دستار نامه او طب نامه چاپ کړي دي. په ۱۹۶۷ء کښې د عبدالقادر خان خټک ديوان دارالتصنيف پېښور او د بايزيد روښان خېرالبيان پښتو اکېډمۍ شائع کړی دی. په ۱۹۶۹ ء کښې د عبدالقادر خټک ديوان (حديقۀ خټک) يونيورسټي بک ايجنسي د چاپ په کالو ښائسته کړی دی، چې مدون ئې سيد انورالحق دی او په هم دغه کال پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټۍ دا خون درويزه "مخزن" هم چاپ کړی دی.

په ۱۹۷۰ ء کښې پښتو ټولنې کابل د خوشحال درباعياتو او د حميد د نېرنګ عشق متون د پوهاند رشتين له سريزو او يادؤنو سره چاپ کړي او خپارۀ کړي دي. د خوشحال د رباعياتو متن د درېو خطي او درېو چاپي نسخو له مخې تيار کړې شوی دی، چې د تصحيح او مقابلې په کار کښې ئې له محترم رشتين نه علاوه محترمو محمد اسماعيل سړبن، بختاني، ځدران، حبيب الله او شاه ولي صافي هم برخه در لودې ده. (۱۴) په دې متن کښې د خوشحال د چاپي ديوانونو په پرتله ۷۰ رباعيات اضافه شوي دي. دغه اضافه د خوشحال د ديوان د هغه خطي نسخې څخه شوې ده، چې په ۱۰۹۹ هـ کښې د مصنف په ژوند په جانه کوړ کښې ليکلې شوې ده (۱۵).

د نېرنګ عشق متن د درېو خطي نسخو له مخې چاپ ته اماده کړې شوی دی، د متن د تصحيح، مقابلې او ترتيب په مراحلو کښې پرته له پوهاند رشتين نورو کسانو هم برخه اخستې ده، چې پکښې شاه ولي صافي، بختاني، او سيفي (۱۶) شامل دي. په متن کښې استفاده شوې نسخې او ماخذونه په سريزه کښې معرفي کړې شوي دي، د متن په

حاشیو کښې په منظمه توګه د نسخه بدلو اهتمام هم لیدی شي او په پای کښې فرهنګ هم لري.

په ۱۹۷۱ء کښې د پېښور پښتو اکېډمۍ د تواریخ حافظ رحمت خاني په نامه یو متن نشر کړی دی، چې مؤلف ئې پیر معظم شاه ښودلی شوی دی او دیباچه پرې پروفیسر محمد نواز طائر لیکلې ده. د دې متن په باب ډېر نکات داسې شته، چې د تأمل وړ دي، په خاص توګه د مؤلف د تعیّن په لړ کښې ئې ډېرې ستونزې را مېنځ ته شوي دي (په دې لړ کښې د تفصیلي مطالعې له پاره د عقاب خټک مقاله "تواریخ حافظ رحمت خاني" ملاحظه کړئ. دغه مقاله د زلمی هېواد مل په مرتب کتاب خوشحال نامه کښې چاپ ده) په ۱۹۸۷ ء کښې دغه متن په دوېم ځل هم چاپ شوی دی.

په ۱۹۷۲ ء کښې پښتو اکېډمۍ، پېښور یونیورسټۍ دیوانِ نجیب چاپ کړی دی، چې مدون او مقدمه نګار ئې محترم خیال بخاري دی. مدون دغه متن د برټش میوزیم د یوې نسخې د مائیکرو فلم او یوې خطي نسخې له مخې ترتیب کړی دی، د متن مقدمه ښه په زړهٔ پورې ده. د نجیب د ژوند او فکر وفن په حواله پکښې معلومات او مطالعات وړاندې کړې شوي دي او ځینې لساني مباحث پکښې هم چېړلی شوي دي. پرته له مقدمې نه پرته متن ته حاشیې هم ورکړی شوي دي، چې نسخه بدلې اونور متني وضاحتونه پکښې راغلي دي. خو په متن کښې چې د کومې خطي نسخې نه استفاده شوې ده، د هغې بشپړ تعارف نهٔ دی ورکړی شوی.

په ۱۹۷۳ء کښې پښتو اکېډمۍ بلوچستان د صالح محمد تاجک "خیر الدوام" د ابوالخیر ځلاند په زیار شائع کړی دی. دا متن د واحدې نسخې لهٔ مخې چاپ ته اماده شوی دی چې په مقدمه کښې ئې د خطي نسخې بشپړ تعارف او د متن او صاحب متن په باب درنې څېړنې شوي دي، او متن ته په ضروري مواردو کښې حاشیې هم لیکلی شوي دي. ټول مخونه ئې اتیا دي. دا متن په وړومبي ځل مدون کشف کړی او نشر کړی دی، چې وړاندې ئې د پښتو ادب په منابعو کښې ذکر نهٔ ؤ راغلی.

په ۱۹۷۴ ء کښې علامه رشاد اکادمۍ کندهار یو متن "په ګلشن روه کښې د بابو جان منتخبات نشر نهٔ دی" په نامه خپور کړی دی، چې مدون ئې علامه رشاد دی. دا متن د راوړتې په هغه نظر، چې په ګلشن روه کښې ئې د بابو جان منتخبات نشر ګڼلی دی، یوه د قیقه څېړنه ده، چې د بابو جان د منتخباتو متن ورسره هم ورکړې شوی دی. دغه متن د تصحیح، تنقیح، تقطیع او د نورو خطي او چاپي منابعو سره د مقابلې او موازنې د مرحلو نه تېر شوی دی، چې تفصیل ئې د محترم رشاد په څېړنه کښې راغلی دی. په دغه متن کښې د حاشیو، تعلیقاتو، فرهنګ او اشاریو منظم اهتمام شوی دی. د دې نه علاوه د متن په پېل کښې د علامه حبیبي، پوهاند محمد رحیم الهام او استاد عبدالرؤف بېنوا یادښتونه هم راغلي دي.

تاریخ مرصع هم په دغه وختونو کښې د استاد کامل په تدوین یونیورسټي بک ایجنسي پېښور چاپ کړی او نشر کړی دی چې د اشاعت د کال اندراج نهٔ لري خو د "پښتو کتابیات" مؤلفینو او " پښتو پانګې" مؤلف ئې د اشاعت کال ۱۹۷۴ ء ښودلی دی. دغه متن بیا په ۲۰۰۶ ء کښې هم چاپ شوی دی. د تاریخ مرصع وړومبی چاپ متن د تدوین او تحقیق له روښونو سره سم تدوین شوی دی، بلکې د پښتو د تدوین شوؤ معیاري متونو په وړومبي صف کښې ځای لري – خو د تاریخ مرصع دوېم چاپ (د مشتاق مجروح په زیار) د پرېمانه ګډوډو، کموتونو او بې احتیاطو ښکار دی. پکار دا وه چې دغه متن د دوېم ځل له پاره په عکسي ډول چاپ شوی وی.

په ۱۹۷۵ ء کښې چې په کابل کښې کوم متون، د متن پوهانو دعلمي او تحقیقي زیارونو په نتیجه کښې د چاپ ډګر ته راوتلي دي، په هغو کښې د خیرالبیان عکسي چاپ، دمیرزا خان انصاري دیوان، د دولت لواني دیوان، د پټې خزانې درېم ایډیشن، د حمید دیوان او د واصل روښاني څو شعرونه شامل دي.

د واصل روښاني څو شعرونه کښې د واصل څهٔ لږ کلام راغلی دی. دغه کلام د کندهاري اختر په بیاض کښې خوندي ؤ، چې محترم حبیب

الله رفیع ترې رانقل کړی (۱۷) او بیا ئې چاپ کړی او نشر کړی دی. د کتاب په پیل کښې د محمد صدیق روهي او سید ال شاه پولاد یادونې او بیا د پوهاند عبدالشکور رشاد مقدمه راغلې ده او وروستو د متن د ځینو لغتونو معنې ښودلې شوي دي.

په ۱۹۷۲ء کښې پښتو ټولنې کابل د څېړنوال دوست شنوارۍ له سریزې، څېړنې او لغت نامې سره "روښاني رساله" چاپ کړې او خپره کړې ده، چې د محترمو صدیق روهي، عبدالله خدمت ګار او صدیق الله رشتین یادښتونه ورسره ملۀ دي. دغه متن د واحدې نسخې له مخې تهیه کړې شوی دی، چې د پیل له خوا بشپړه او د پای له خوا نیمګړی دی. د دې متن په سریزه او یادښتونو کښې د متن د مصنف په باب متضاد نظرونه رامینځ ته شوي دي، دوست شنواری ئې مصنف پیر روښان ګڼي او نور ئې دَ ملا ارزاني یا د پیر روښان د کوم بل مرید اثر ګڼي، ځکه نوپه سر پاڼه ئې د مصنف نوم نۀ دی ورکړې شوی، خو هر کله چې په وروستو موده کښې د دې متن دوه نورې خطي نسخې بازیافت شوې، نو د هغو د داخلي شهادتونو په بنیاد د متن د مصنف نوم بایزید روښان تصدیق شو او ورسره د رسالې نوم د "علم رساله" هم رامینځ ته شو. د دې نوي صورت حال نه پس د افغانستان د علومو اکادمۍ په ۱۹۸۵ ء کښې دغه متن د "علم رساله" په نامه دوباره د یوې چاپي او دوۀ قلمي نسخو له مخې نشر کړو، چې د خطي نسخو تعارف او د متن د تهیه کولو مېتود ئې په مقدمه کښې ورکړې شوی دی.

په ۱۹۷۷ء کښې دغه لاندې متون په پېښور او کابل کښې نشر شوي دي:

۱- دیوان عبدالرحمان: دغه دیوان په پېښور کښې رحمان ادبي جرګې چاپ کړی چې د متن د نسخو په باب ئې په سریزه کښې یوائې دغه اطلاع ورکړې شوې ده : " خومره دیوانونه چه وخت په وخت خوارۀ شوي دي او مونږ له په لاس راتلی شول، هغه ټول مخې ته کېښودی شول. د الفاظو په فرق ښۀ غور اوکړی شو، چه کوم الفاظ راته صحیح ښکاره شول هغه خپل کړی شول" (۱۸).

په دغه اطلاع کښې نهٔ د متعلقه دیوانونو نشاندهي شوې ده او نهٔ ئې څه نور تفصیلات بیان شوي دي. دغسې په دیوان کښې نهٔ حاشیې لیدی کېږي او نهٔ فرهنګ.

۲- د رحمان بابا دیوان: دغه متن پښتو ټولنې کابل د ښاغلي حبیب الله رفیع د سریزې سره خپور کړی دی، چې متن ئې د څلورو چاپې، شپاړسو قلمی نسخو، د ډورن منتخباتو او یو مائکرو فلم له مخې تهیه کړې شوی دی.

۳- د یونس دیوان: دغه دیوان د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د څېړندوي عبد الله خدمتګار په سمونه او څېړنه نشر کړی دی، چې متن ئې د واحدې نسخې له مخې چاپ ته اماده کړې شوی دی. دا دیوان په پېل کښې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزیر پوهاند دکتور نوین یوه لنډه یادؤنه لري. د ښاغلي خدمتګار مقدمه هم ورسره ملهٔ ده. د مندرجاتو فهرست ئې د متن په پای کښې ورکړې شوی دی.

۴- د رحمان بابا دیوان: دغه دیوان وړومبی په ۱۸۷۷ء کښې د پادري هیوز په اهتمام په لاهور کښې چاپ شوی ؤ او بیا یونیورستي بک ایجنسي پېښور د سید رسول رسا د یوې مفصلې مقدمې سره په ۱۹۷۷ء کښې چاپ کړی او نشر کړی دی.

۵- د قلندر دیوان : دغه متن د زلمی هیوادمل په سریزه او سمون پښتو ټولنې کابل د چاپ په کالو ښائسته کړی دی. کهٔ څه هم دغه متن د واحدې خطي نسخې له مخې مرتب کړې شوی دی، خو مدون ئې د تصحیح او تهذیب په کار کښې دقت کړی دی او متن ئې د نورو هغو منابعو سره هم کتلی او موازنه کړی دی، په کومو کښې چې د شاعر د کلام څهٔ برخې موجودې وې. د متن مقدمه هم د متن څېړنې د روشونو سره سمه لیکلې شوې ده او د شاعرد ژوند د حالاتو او شعري خصوصیاتو له بیان نه پرته پکښې د متن دخطي نسخې او نورو استفاده شوؤ منابعو تعارف ورکړی شوی دی او د متن ترتیب ئې هم واضح کړی دی. پرته له دغو تدویني ښېګڼو د متن اخر کښې د ځینو متني امورو له پاره تعلیقات هم لیکلی شوي دي.

۲- معرفة الافغاني: د پیر محمد کاکړ دغه مهم متن د محترم حبیب الله رفیع په سریزه او سمون ننګرهار مجلې خپور کړی دی. مذکوره متن د هغه چاپي نسخې له مخې تهذیب کړې شوی دی چې په ۱۳۴۱ هـ ق کال) په لاهور کښې چاپ شوې ده. د مدون دوېنا تر مخه: ''دانسخه ډېرې داسې تېروتنې لري، چې په لومړي نظر سړی پرې پوهیږي او دا ښیي چې د کتاب متن له اصل نسخې څخه په ډېره بې پروائۍ رانقل شوی دی او د همدې متن غلطیو زۀ په خپل کار کې له ډېرو ستونزو او کړاونو سره مخ کړم ''(۱۹).

په ۱۹۷۹ ء کښې د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د ژبو او ادبیاتو انستیټوټ د صدیق دیوان د څېړنوال دوست شنواري په سریزه او تصحیح نشر کړی دی، چې متن ئې د هغې نیمګړې نسخې د مائکروفلم له مخې تیار کړې شوی دی، کومه چې د هندوستان د ملي میوزیم ملکیت دی(۲۰). دغه نسخه د ټونک د امیر محمد خان په کتابخانې پورې اړه لري چې د مولانا ابوالکلام ازاد په امر د نورو اثارو سره مذکوره میوزیم ته وړې شوې وه. (۲۱) د متن په مقدمه کښې د نسخې په باب بشپړ معلومات ورکړې شوي دي او پرې پسې د صدیق سوانح لیکلی شوي دي او د متن په پای کښې چې کوم فرهنګ راغلی دی، د هغه اهمیت دادی، چې لغات پکښې د غزلو په ترتیب حل کړی شوي او هر لغت ته د متن د متعلقه مخ حواله ورکړې شوې ده.

مناقب د فقیر جمیل بېګ: دغه متن پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټۍ نشر کړی دی چې مصنف ئې میا شمس الدین کاکا خېل او مدون ئې راج ولي شاه خټک دی. دغه متن د دؤو خطي او یوې چاپي نسخې له مخې چاپ ته اماده کړې شوی دی چې یوائې یادؤنه ئې د متن په مقدمه کښې راغلې ده او بشپړ تعارف ئې نۀ دی شوی البته په مقدمه کښې د متن، صاحبِ متن او فقیر جمیل بېګ په باب مفصل او معتبر معلومات وړاندې کړې شوي دي او د متن په حاشیو کښې د نسخه بدلو ښودلو اهتمام هم شوی دی. په دغه متن د اشاعت کال نۀ دی لیکلی، خو محترم افضل رضا ئې د اشاعت کال ۱۹۷۹ء ښودلی دی. (۲۲)

په هم دغه کال د افغانستان د علومو اکادمۍ د سکندر خان خټک د لیلٰی مجنون متن د دوست شنواري له مقدمې سره چاپ کړی دی. دغه متن په هغه مائیکرو فلم متکي دی، د کوم خطي نسخه چې په ټونک کښې موجوده ده. ښاغلي عارف غروال او ښاغلي عبدالواجد واجد دغه متن د مائیکرو فلم څخه رانقل کړی او د دهلي د ۱۲۹۴ هـ ق چاپ نسخې سره ئې مقابله کړې دی، کومه چې بشپړه نۀ ده.

سوات نامه، د خوشحال خان خټک کلیات (لومړی ټوک) او د کامګار خټک دیوان هم په ۱۹۷۹ ء کښې د افغانستان د علومو اکاډیمۍ په اهتمام د چاپ د مرحلونه تېر شوي دي.

په ۱۹۸۰ ء کال کښې ایریا سټډي سنټر پېښور یونیورسټۍ د رحمت داوي دیوان چاپ کړی دی چې متن ئې محترم همېش خلیل د یوې نیمګړې نسخې له مخې مرتب کړی دی.

په ۱۹۸۰ء کښې په کابل کښې د میا فقیر الله جلال ابادي د فواید فقیر الله او اسماء الحسنٰی متون هم چاپ شوي او نشر شوي دي.

په کال ۱۹۸۱ ء کښې دغه لاندې متون تدوین شوي او خپارۀ شوي دي.

د حاجي جمعه خان بارکزي دیوان: دغه دیوان د زلمی هیوادمل په ترتیب او تهذیب او د پوهاند عبدالشکور رشاد په سریزه او لغتنامه د افغانستان د علومو اکاډیمۍ نشر کړی دی، چې متن ئې د واحدې نسخې له مخې تیار کړې شوی دی. دغه نسخه د افغانستان د ملي ارشیف په خطي کتابونو کښې په ۱۵/۴ نومره قیده ده. (۲۳) . پوهاند رشاد په خپله سریزه کښې د مصنف د ژوند حالات او د هغۀ د کلام خصائص بیان کړي دي او په لغت نامه کښې ئې د نادرو لغتونو او تصوفي اصطلاحاتو په زړۀ پورې تشریحات کړي دي. مدون د متن په باب د امکان ترحده ټول مباحث چېړلي دي.

د حبیب الله دیوان: دغه دیوان د څېړنمل محمدعارف غروال په تدوین د افغانستان د علومو اکادمۍ خپور کړی دی. چې متن ئې د هغې خطي نسخې په مائکرو فلم متکي دی. کومه چې د هندوستان د ملي میوزیم ملکیت دی (۲۴) د متن په مقدمه کښې د مصنف د احوالو

او شعري خصوصياتو د بيان نه علاوه د نسخې په باب ټول ممکنه معلومات ورکړې شوي دي. د متن په پای کښې د نومونو اشاريه (index) هم ورکړې شوې ده. چې د غزلو په ترتيب ده او پرې پسې فرهنګ د الف با په ترتيب ورکړې شوی دی. خو د متعلقه غزلو حوالې ورته درج دي.

د خانګل خليل څو شعرونه: دغه کوچنۍ رساله د افغانستان د علومو اکادمۍ د محترم زلمی هيواد مل په تدوين خپره کړې ده. چې د خانګل شل غزلې او يوه رباعي پکښې راغلې ده. مدون په دغو کښې ۱۸ غزلې د يو زوړ جونګ او يو غزل او يوه رباعي د پښتانهٔ شعراء د اول ټوک نه را نقل کړي دي او يو غزل ورته محترم همېش خليل د پېښور نه ليږلې ؤ د مدون د وينا تر مخه دغه مذکوره جونګ د محترم نصرت کندهاري په لاس بازيافت شوی دی، چې ټولې ۲۳۴ پاڼې لري. چې د روزنامچې په ډول ترتيب او ګنډلی شوی دی. خط ئې نستعليق دی او د فارسۍ د قديمو شاعرانو د اشعارو منتخبات پکښې هم راغلي دي. د متن په مقدمه کښې د خانګل په باب ټول خوارهٔ وارهٔ معلومات منضبط کړې شوي دي او له ګڼو خواؤ نه پرې بحثونه شوي دي. څهٔ متني امور په حاشيو کښې او نور د متن د لغاتو د شنني نه وروستو په تعليقاتو کښې توضيح شوي دي.

شهزاد بهرام او ګل اندامه: دغه متن پښتو اکېډمۍ، پېښور يونيورسټۍ د محترم خيال بخاري په تدوين نشر کړی دی. چې متن ئې د يوې قلمي، يوې چاپي او کليدِ افغاني (متعلقه برخه) له مخې چاپ ته اماده کړې شوی دی. د متن په مقدمه کښې د نورو مباحثو نه علاوه مذکوره درېواړو نسخو له پاره محففات ټاکلی شوي دي. د خطي نسخې بشپړ تعارف او د تدوين د کار وضاحت پکښې هم شوی دی. دغسې د نسخو اختلافي روايتونه په حاشيو کښې په منظم ډول ښودلی شوي دي، خو متن د فرهنګ، تعليقاتو او اشاريو څخه محروم دی.

ګل صنوبر: د طالب رشيد دغه داستاني متن پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټۍ د واحدې نسخې له مخې نشر کړی دی. چې ديباچه ئې

میرشرف خان وزیر لیکلې ده. دیباچه نګار د مصنف او متن په باب ښه دقیقه څېړنه کړې ده او په دغه باب ئې ډېر ناسپړلي نکات سپړلي دي. د دیباچې متن سره د مولانا عبدالقادر یاداشت هم ملهٔ دي.

د لیلٰی او مجنون قصه : د رحمت داوي د لیلٰی مجنون د قیصې دغه متن په عکسي توګه د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د مصطفٰی نژدي او عبد الهادي له سریزې سره شائع کړی دی، چې په پای کښې د لغت نامې اهتمام هم لري.

اخلاقنامه: دغه متن د همېش خلیل په تدوین خپور شوی دی.

د ۱۹۸۲ء کال په تدویني کارونو کښې د عبدالحی حبیبي په تدوین تذکرة الاولیاء، د همېش خلیل په تدوین فراقنامه، د حبیب الله رفیع په استنتاج او سپړنه زنجیرۍ یا خط نامه، د زلمی هیواد مل په تدوین د عبدالحمید دیوان او د مسافر مروت ''حسن و دل'' د چاپ ذکر ته راوتلي دي. په ۱۹۸۳ء کښې د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د خوشحال خټک د بازنامې متن د زلمی هیواد مل له سریزې او څرګندوَنو سره خپور کړی دی.

د ۱۹۸۴ء کال په مدونه متونو کښې د رحمان بابا کلیات د محترم دوست محمد کامل او قلندر مومند په تحقیق، ترتیب او سمونه طب نامه د محترم همېش خلیل په سمونه او څېړنه، فراقنامه او نافع المسلمین د زلمی هیواد مل په تدوین د ذکر وړ دي د نافع المسلمین متن د واحدې نسخې له مخې مرتب کړې شوی دی، چې د افغانستان د ملي ارشیف ملکیت دی. (۲۵) د نافع المسلمین په مقدمه کښې د متن او صاحبِ متن په باب په زړهٔ پورې څېړنه شوې ده او پکښې د خطي نسخې بشپړ تعارف هم ورکړې شوی دی. متن د حاشیو او تعلیقاتو اهتمام هم لري.

د ۱۹۸۵ء کال په تدویني چارو کښې دا لاندې د ذکر وړ دي:

د محمدي صاحبزاده دیوان: دغه متن د محترم قلندر مومند په ترتیب او مقدمه د واحدې نسخې له مخې تهیه کړې شوی دی، چې یوائې ترقیمه ئې په مقدمه کښې ښودلې شوې ده (۲۶) او د نورو کوائفو

په باب ئې د مدون قلم چپ دی. متن له پاره چې کوم فهرست مرتب کړې شوی دی، په هغه کښې د هر غزل وړومبۍ مصرعه ورکړې شوې ده. زمونږ اکثر متون د داسې فهرستونو له اهتمام څخه محروم دي. د متن په ضروري مواردو کښې د حاشیو اهتمام شوی دی. چې د متني امورو وضاحتونه پکښې شوي دي خو متن له پاره د فرهنګ اهتمام نۀ دی شوی ددې متن د تفصیلي مطالعې له پاره ضمیمه نمبر 2 ملاحظه کړئ.

د ابوالقاسم دیوان: د ابوالقاسم دیوان هم د محترم قلندر مومند په ترتیب او مقدمه د واحدې نسخې له مخې تهیه کړې شوی دی. چې یوائې د ترقیمې اندراج ئې د متن په مقدمه کښې راغلی دی. په مقدمه کښې د ابوالقاسم د ژوند او فن په باب مباحث په زړۀ پورې دي، خو د محمدي صاحبزاده د دیوان په څېر دا متن هم د فرهنګ له اهتمام څخه محروم دی.

شمائل نامه او پندنامه د سکندر خټک: د سکندر خټک دغه دواړه مثنوۍ، چې په چاپي دیوان (د ۱۹۵۲ء چاپ) کښې ئې متن ناقص دی، زلمی هیواد مل د پېښور د پښتو اکېډمۍ د کتابخانې د یوې بشپړې نسخې (د سکندر خان خټک د دیوان نسخه) څخه رانقل کړي دي او بیا ئې دغه متون د چاپي دیوان او نورو منابعو (په کومو کښې چې د دغو مثنوۀ بېتونه راغلي دي) سره مقابله کړي دي او اختلافي قراتونه ئې د متن په حاشیو کښې ضبط کړي دي. د متن مقدمه، حاشیې او تعلیقات دومره په زړۀ پورې دي، چې د مصنف او متن ټولې خواوې ئې احاطه کړي دي.

فالنامه: دغه متن د محترم حبیب الله رفیع له سریزې، سمون، حاشیو او ویې پانګې سره د پېښور پښتو اکېډمۍ نشر کړی دی، چې متن ئې د څلورو خطي او دوۀ چاپي فضل نامه ۱۹۵۲ء او ارمغانِ خوشحال) نسخو له مخې تیار کړی شوی دی.

د متن په مقدمه او تعلیقاتو کښې هغه ټول مواد او معلومات مجتمع دي، د کومو چې په څۀ نه څۀ حواله د موضوع سره ربط او تعلق موجود دی.

ورک زوی څنګه پیدا شو؟ د اخوند احمد دغه متن چې د عبدالغني کاسي په بیانات افغاني کښې په ۲۳ مخونو راغلی دی. (۲۷) د محترم حبیب الله رفیع په سریزه او سمون د امان کتاب له خوا نشر شوی دی. د اخوند احمد د ژوند او اثارو او په پښتو کښې د حضرت یوسف د کیسو په باب ژوره څېړنه او مطالعه د متن په سریزه کښې وړاندې کړې شوې ده او د متن په حاشیو کښې د ګرانو لغتونو معنې او نور متني وضاحتونه شوي دي.

د هجري د دیوان منتخبات: دغه منتخبات د پوهاند لطیف بهاند په تدوین، د افغانستان د قومونو او قبائلو وزارت د نشریاتو او تبلیغاتو ریاست،د هجري د دړې سوم تلین په مناسبت خپارهٔ کړي دي، چې د هجري په چاپ دیوان متکي دي. د هجري دغه منتخباتو کښې تر سلو لړې غزلې او یوولس رباعۍ راغلي دي(۲۸) او ورسره په کتابښود کښې ۴۸ منابع ښودلی شوي دي خو کوم منابع چې له مدون نه پاتې شوي وو هغه زلمی هیواد مل په مقدمه کښې معرفي کړي دي. چې تعداد ئې د مدون کتابښود ته ورته دی. پرته له دې د هجري کوم منتخبات چې په متن کښې ورکړې شوي دي، هغه نورو منابعو سره هم مقابله شوي او اختلافي قراتونه ئې په حاشیو کښې ښودلی شوي دي.

طب نامه: دغه متن خوشحال ریسرچ سیل، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټۍ د سید تقویم الحق کاکاخېل په تدوین چاپ کړی دی.

زنځیري: دغه متن هم خوشحال ریسرچ سیل، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټۍ نشر کړی دی، چې د کابل د چاپ زنځیرۍ عکس دی.

بازنامه: د خوشحال خټک منظومه بازنامه هم مذکوره سیل خپره کړې ده چې مدون ئې محترم همېش خلیل دی.

د واصل روښاني دیوان او سوات نامه د ۱۹۸۲ء کال مهم تدویني کارونه دي او د پیر مطیع الله دیوان هم په دغه کال خپور شوی دی چې د تدوین او ترتیب په کار کښې ئې ډاکټر اقبال فنا ، محترم همېش خلیل او پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک برخه درلودې ده.

په ۱۹۸۷ء کښې د افغانستان د علومو اکادمۍ د سر محقق دوست شینواري په زیار د شرعة الاسلام متن خور کړی دی چې:

"د ناظم نوم پکښې (حمید) راغلی دی او مشهوره دا ده چې دا کتاب د مشهور عبدالحمید مومند دی، خو ځینې کسان دا متن د عبدالحمید مومند نه بلکې د بل عبدالحمید بولي. په خاص ډول عقاب خټک (۱۹۸۵ء مړ) د دې نظرئې پلوي ؤ". (۲۹)

دغه چاپ عکسي دی او نسخه ئې دوست شینواري په خپله لیکنه کښې معرفي کړې ده چې نیمګړې ده.

په ۱۹۸۸ء کال کښې د افغانستان د علومو اکادمۍ د عبدالرحیم ځدران په نقل، مقدمه، لمن لیک او لغت نامه د ملا لتار دیوان چاپ کړی دی، دغه متن د هغې واحدې خطي نسخې له مخې تهیه کړې شوی دی، کومه چې د دهلي د ملي میوزیم ملکیت دی. دغه نسخه په اول ځل پوهاند صدیق الله رښتین کشف کړې او معرفي کړې وه(۳۰) د خیرالبیان تنقیدي مطالعه هم په ۱۹۸۸ء کښې چاپ ده. د محقق العلماء عبدالحق خروټي د یاقوت السیر(لومړی ټوک) متن هم په دغه مذکوره کال د اسلامي علومو مرکز(افغانستان) د زلمي هیواد مل په تدوین نشر کړی دی، چې متن ئې د دوؤ خطي نسخو له مخې تیار کړې شوی دی.

دیوانِ شاد محمد خان هم په ۱۹۸۸ء کښې پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټۍ شائع کړی دی، (۳۱) چې مدون ئې خیال بخاري دی. د متن په پېل کښې د پروفېسر محمد نواز طائر یادؤنه او پرې پسې د ښاغلي خیال بخاري مقدمه راغلې ده. د متن په پای کښې د قاضي عبد الحلیم اثر افغاني یوه تحقیقي مقاله هم ورکړې شوې ده، چې د شاد محمد خان په باب ده. دلته دې یاده وي چې د شاد محمد خان دیوان دوباره ډاکټر پروېز مهجور ایډټ کړی، چې په ۱۹۹۳ء کښې هم مذکوره ادارې چاپ کړی دی.

په کال ۱۹۸۹ء کښې د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د نورالله ولسپال په تدوین د عبدالقادر خټک دیوان نشر کړی دی او د کلیات خوشحال خان خټک لومړی ټوک ئې هم په دویم ځل چاپ کړی دی او هم

په دغه کال پښتو ادبي مرکز سرائی نورنګ(بنو) د پټې خزانې د څلورم چاپ عکسي نقل هم خپور کړی دی.

په ۱۹۹۱ء کال کښې د میرزا حنان بارکزي دیوان د محمد معصوم هوتک له سریزې، سمون او لغت نامې سره حمدالله صحاف (کندهار) خپور کړی دی، چې متن ئې دیوې چاپي(د کابل د ۱۳۳۲هـ ش چاپ) او یوې خطي نسخې له مخې تهیه کړې شوی دی. د مرزا حنان د دیوان دا چاپي ایډیشن د کابل چاپ دیوان په پرتله د متن څېړنې د روشونو سره سم ترتیب کړې شوی دی. په سریزه کښې ئې د خطي نسخې ټول مواقف، معارض او خصوصیات ښودلی شوي دي او د مرزا حنان د ژوند حالات پکښې هم بیان شوي دي. دغسې د متن په حاشیو کښې په منظم ډول د متن اختلافي روایتونه درج کړی شوي دي او د متن په پای کښې فرهنګ هم ورکړی شوی دی. د حنان بارکزي "مثنوي" هم په دغه کال پښتو اکېډمی بلوچستان چاپ کړې ده. چې په دوؤ حکایتونو، یو مناجات او یو نصیحت(چې شاعر خپل زوي ته کړی دی) مشتمله ده.

دستارنامه هم په ۱۹۹۱ء کښې پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټۍ د محترم پُردل خټک په ترتیب خپره کړې ده. د ۱۹۹۱ء په خپرؤ شوؤ متونو کښې یو متن قصه د ادم خان درخانۍ ده. دا قِصه مولوي احمد په خپل خواږۀ او روان نثر کښې لېکلې وه. پادري هیوز ورسره سریزه په انګریزۍ کښې لېکلې او دَ سرکاري مطبع لاهور نه ئې په ۱۸۷۲ء کښې شائع کړې وه خو دَ نامعلوم وجوه په بناء دا په ټوله پښتونخوا، کابل، پېښور او کوئټه کښې نایابه وه. لهٰذا هر چا نظر انداز کړې وه او په ګمان ئې ورته "مثنوي" او منظوم اثر وئیلی ؤ.

په کال ۱۹۸۱ء کښې پروفېسر ډاکټر خالد خان دَ لندن په سکول آف اُورینټل اینډ افریکن سټډیز (S- O- A- S) کښې دغه چاپ شوې نسخه وموندله او ملک ته دَ راتللو نه پس یې په ۱۹۹۱ء کښې یې په نوي کتابت دوباره شائع کړه او ورسره ئې یوه لوړه علمي مقدمه ولیکله. ډاکټر خالد خان په متن کښې څه سمون نۀ دی کړی خو بیا هم دَغه کتاب

دَ نـوي سـر نـه تيـارؤل، مقدمـه ورسـره لېکـل او منظـر عـام تـه رايسـتل، د هغوی لوړه ادبي او تحقيقي کارنامه ده.

پـه۱۹۹۲ء کښـې پښـتو اکېډمۍ بلوچسـتان د علامـه عبـدالعلي اخونـد زاده ديـوان شـائع کـړی دی، چـې مـتن ئـې د واحـدې نسـخې څخـه ابـو الخېـر ځلانـد را نقـل کـړی دی. (۳۲) چـاپ پـه پېـل کښـې د ښـاغلي دروېـش درانـي يـوه ممتـع يادؤنـه لـري، بيـا ښـاغلي سـرور سـودائي د علامـه عبـدالعلي د ژونـد او کـورنۍ مختصـر حـالات ليکلـي دي او پـرې پسـې د علامـه صـاحب يـوه وړه غونـدې سـريزه ورکـړې شـوې ده. د ديـوان مـتن پـه دوؤ برخـو مشـتمل دی، چـې پـه وړومبۍ برخـه کښـې ئـې پښـتو او پـه دوېمـه کښـې ئـې فارسـي کـلام راغلـی دی. مـتن لـه پـاره فرهنـګ نـۀ دی مرتـب کـړی شـوی. ددی ديـوان نـه وړانـدې د علامـه عبـدالعلي اخونـد زاده د کـلام انتخـاب د "شـاخِ ګـل" پـه نامـه پـه کوئټـه کښـې د مياشـتيزې "ګلسـتان" د خـوروني څـانګې لـه خـوا هـم چاپ شوی دی، چې د اشاعت کال پرې نۀ دی ليکلی.

پـه ۱۹۹۳ء کـال کښـې پښـتو اکېډمۍ پېښـور يونيورسـټۍ د شـاد محمـدخان "دبيـر دانـش" د محتـرم حبيـب الله رفيـع پـه تحقيـق او حاشـيو د واحـدې نسـخې لـه مخـې خپـور کـړی دی، چـې مـدون پـرې د مـتن څېړنـې د روشـونو سـره سـمه مقدمـه او تعليقـات ليکلـي دي. تعليقـات پـه څلـورو ضميمومشـتمل دي، چـې ترتيـب ئـې داسـې دی: (۱) ايتونـو، حـديثونو او مقولـو لارښـود (۲) متلونـه، محـاورې او اصـطلاحـات (۳) نومونـه (۴) لغـت نامـه. دَ مولـوي محمـد رفيـق ديـوان شـمس الفلـک هـم پښـتو اکېډمۍ پېښـور پـه هـم دغـه کـال د زلمـی هيـواد مـل پـه تحقيـق او حاشـيو د واحـدې نسـخې لـه مخـې نشـر کـړی دی، چـې بشـپړه معرفـي ئـې د مـتن پـه مقدمـه کښـې شـوې ده. د مولـوي محمـد رفيـق دغـه ديـوان پـه درېـو دفترونـو مشـتمل دی. وړومبی او دوېم دفتـر ئـې د مثنـوۍ بڼـه لـري او پـه درېـم دفتـر کښـې ئـې غزلونـه او متفرقـات راغلـي دي. د مـتن لمـن ليکونـه (حاشـيې) د هـر دفتـر پـه پـای کښـې ورکـړې شـوي دي. د شـاد محمـد خـان معـراج نامـه او ديوان هم په دغه کال مذکوره ادارې چاپ کړي دي.

په ۱۹۹۴ء کـال کښـې ادارۀ علـم و فـن پاکسـتان پېښـور د افضـل خـان خټـک منثـوره بازنامـه د محتـرم همېش خليـل پـه تـدوين چـاپ کـړې ده چـې مـتن ئـې د واحـدې نسـخې لـه مخـې مرتـب کـړې شـوی دی. دغـه نسـخه د پښـتو اکېـډمۍ د کتابخـانې ملکيـت دی. د دې بازنـامې اردو ترجمـه محتـرم رضـا همـداني کـړې ده، چـې پـه ۱۹۸۵ء کښـې د خوشـحال ريسـرچ سـيل، پښـتو اکېـډمۍ پېښـور لـه خـوا نشـر شـوې ده او د مصـنف نـوم پـرې خوشـحال خـان خټـک ليکلـی دی، خـو د دې بازنـامې مـدون پـه خپلـه مقدمـه کښې دغه متن په مستندو دلائلو د افضل خان خټک ثابت کړی دی.

پـه ۱۹۹۲ء کښـې د کـوئټې پښـتو اکېـډمۍ د مـرزا حنـان بـارکزي ديـوان شـائع کـړی دی، چـې لـه وړانـدينو چـاپونو (د کابـل چـاپ او د معصـوم هوتـک چـاپ) څخـه بشـپړ دی. دا ديـوان د حنـان بـارکزي د لاس ليکلـي شـوې نسـخې څخـه نقـل کـړی شـوی او بيـا دغـو دواړو يـادو شـوؤ چـاپي ديوانونـو سـره موازنـه کـړې شـوی دی، چـې اضـافي او تـوپيري برخـې ئـې پـه نخښـه کـړې شـوي دي. د نقـل او مـوازنې سـيد خېرمحمـد عـارف او سـعيد ګوهر په شريکه کړی دی.

هـم پـه ۱۹۹۲ء کـال همېش خليـل د خوشـحال خـان خټـک د نـامِ حـق د پښـتو منظـومې ترجمـې څـو پـاڼې د خپـل تحقيـق او حاشـيو سـره خپـرې کـړې. دغـه څـو پـاڼې (دوه پـاڼې او څلـور مخونـه) د فضـل نـامې د هغـې نيمګـړې خطـي نسـخې سـره تنـي وې، کومـه چـې د مياطـارق شـاه د شخصـي کتـاب خـانې نـه مـدون تـه ترلاسـه شـوې وه (۳۳) د کتـاب پـه مقدمـه او حاشـيو کښـې د مـتن تـولې خـواوې څېړلـې شـوي دي. پـه ۱۹۹۲ء کـال کښـې خوشـحال ريسـرچ سـيل، پښـتو اکېـډمۍ پېښـور يونيورسـټۍ د کامګـار خټک ديوان هم دوباره نشر کړی دی.

پـه ۱۹۹۷ء کـال د ميـا حمـدالله فقيرخيـل ديـوان هـم د واحـدې نسـخې لـه مخـې شـائع شـوی دی، چـې مـدون ئـې مياوکيـل شـاه فقيـر خېـل دی. د ديـوان پـه پيـل کښـې د محتـرم عبـدالله بختـاني د يادابنـت عکـس ورکـړې شـوی دی او پـرې پسـې د مـدون مقدمـه راغلـې ده چـې د مـتن او صـاحبِ مـتن پـه بـاب څېړنـه لـري. پـه مقدمـه کښـې د مـتن د خطـي نسـخې د حصولِ

ذريعه ښودلې شوې ده. او په تر قيمه ئې هم بحث شوی دی. خو د نسخې نور کوائف او خصوصيات نهٔ دي بيان شوي او نهٔ متن له پاره فرهنګ مرتب کړې شوی دی.

په ۱۹۹۹ء کښې د احمدشاه ابدالي ديوان د مومن مؤحد په تدوين چاپ شوی دی.

په ۲۰۰۰ء کښې د ريدي خان مومند محمود نامه په ځانګړي ډول د محترم حبيب الله رفيع په سريزه، سمون او سپړنو سره په پېښور کښې چاپ شوې ده چې متن ئې د محمد هوتک ابنِ داؤد د پټې خزانې څخه استخراج شوی دی او په هم دغه کال د سليمان ماکو تذکرة الاولياء هم سره د انګرېزي ترجمې په پېښور کښې نشر شوې ده.

په ۲۰۰۱ء کښې دا لاندې متون تصحيح شوي او تنقيح شوي دي:

اخلاق نامه: دغه متن د محترم حبيب الله رفيع په سمونه او څېړنه په پېښور کښې چاپ شوی دی.

فراق نامه: دغه متن د محترم زلمی هيواد مل په تدوين په دوېم ځل په پېښور کښې نشر شوی دی.

ديوان اشرف خان هجري: دغه ديوان د محترم همېش خليل په تدوين پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورستۍ چاپ کړی دی. چې د دې ديوان دوېم چاپ دی او په پېل کښې ئې د ډاکټر راج ولي شاه خټک پېش لفظ هم راغلی دی.

فالنامه: دغه متن په اول ځل په ۱۹۸۵ء کښې د استاد حبيب الله رفيع په تدوين خوشحال ريسرچ سيل خپور کړی دی. په ۲۰۰۱ء کښې په دوېم ځل دغه متن د پښتني کلتور ټولنې (جرمني) له اړخه شائع شوی دی چې په استدراک کښې ئې د فالنامې د يوې نوې دريافت شوې نسخې معرفي هم راغلې ده. وصيت نامه، نسب نامه، خټک نامه، هندکونامه او ساعتنامه هم په ځانګړي ډول په۲۰۰۱ء کښې د استاد حبيب الله رفيع په زيار نشر شوي دي. په دغو کښې وړومبي څلور متون د تاريخ مرصع نه استخراج شوي دي او د ساعت نامې متن د پښتو اکېډمۍ

پېښـور د کتابخـانې د دسـتارنامې د هغـه خطـي نسـخې پـه حاشيه راغلـی دی، د کومې په حاشيو چې د اخلاق نامې متن هم راغلی دی(۳۴).

د ميـر علـي ديـوان: د ميـر علـي ديـوان هـم پـه ۲۰۰۱ء کښـې د عبدالرؤف رفيقـي لـه سمؤنې او څېړنـې سره د حبيبي اکـادمي چمـن لـه خـوا چـاپ شـوی دی، چـې مـتن ئـې د واحـدې نسـخې لـه مخـې تيـار کـړې شـوی دی. د مـتن پـه مقدمـه کښـې د خطـي نسـخې تعـارف او د شـاعر د ژونـد حـالات بيـان شـوي دي. د ميـر علـي ديـوان د مـدون انکشـاف دی، ځکـه چـې تر دغه دمه ئې ذکر زمونږ د ادبي تاريخ په منابعو کښې نه ؤ راغلی.

پـه ۲۰۰۲ء کښـې د قلـب السـير شـاعري د ښـاغلي زبېـر حسـرت پـه تحقيـق او ترتيـب چـاپ شـوې ده چـې مـتن ئـې د ګـوهر خـان خټـک د قلـب السير د خطي نسخې څخه استخراج شوی دی.

د مـتن پـه مقدمـه کښـې د ګـوهر خـان خټـک د ژونـد حـالات څېړلـی شـوي دي او پـه فـن ئـې هـم بحث شـوی دی. دغسـې د مـتن د وضـاحتي امـورو لـه پـاره د حاشـيو اهتمـام هـم شـوی دی او د مـتن د ګرانـو لغتونـو دحـل لـه پاره فرهنګ هم مرتب کړی شوی دی.

پــه ۲۰۰۲ء کښــې پښــتو اکېــډمی پېښــور يونيورسـټۍ د عبــدالقادر خټک ديوان هم د پروفېسر جهانزېب نياز په تحقيق او ترتيب نشر کړی دی.

پــه ۲۰۰۴ء کښــې پښــتو اکېــډمی پېښــور يونيورسـټۍ د مرزاخــان انصـاري ديـوان د ډاکټـر پروېـز مهجـور پـه تـدوين شـائع کـړی دی. د بيـاض ديـوان هـم پـه دغـه کـال پـه دوېـم ځـل پـه پېښـور کښـې چـاپ شـوی دی، چـې مـتن ئـې عبـدالله خـدمتګار د بيـاض د وړومبـي چـاپ ديـوان څخـه تهيـه کـړی دی، د عبـدالقادر خټـک ګلدسـته هـم پـه دغـه يـاد شـوي کـال کښـې د افغانسـتان د علومـو اکـاډيمۍ د سـيد محـي الـدين هاشـمي پـه زيـار نشـر کـړې ده، د ګلدسـتې دغـه درېـم چـاپ د پښـتو اکېـډمی پېښـور چـاپ لـه مخـې رامېـنځ تـه شوی دی، چې د محترم هاشمي مقدمه ورسره اضافه شوې ده.

د عبـد الحميـد مومنـد کليـات هـم پـه ۲۰۰۴ء کښـې د اسـتاد محمـد آصـف صـميم پـه زيـار دانـش خپرندويـه ټـولنې چـاپ کـړی دی، چـې د حميـد مومنـد د ديـوان، نيرنـګ عشـق او شـاه و ګـدا متـون پکښـې راغلـي دي. د

کلیات په پېل کښې د استاد محمد آصف صمیم مقدمه او په پای کښې د هغوی مرتب فرهنګ ورکړی شوي دي.

په ۲۰۰۵ء کال کښې دا لاندې تدوین شوي متون د چاپ ډګر ته راوتلي دي.

د نواب محبت خان پښتو دیوان: دغه متن د افغانستان د علومو اکاډیمۍ د زلمي هیواد مل په تدوین د واحدې نسخې (فوټو اسټېټ) له مخې شائع کړی دی. (۳۵) د دیوان په مقدمه کښې د نواب محبت خان د ژوند حالات او ادبي خدمات هم بیان شوي دي او د متن د ترتیب په کار هم رڼا اچولې شوې ده. په متن کښې ټولو غزلو ته نومرې ورکړې شوي دي او په لغت نامه کښې هر ګران لغت ته د متعلقه غزل نومره هم ورکړې شوې ده، چې دا شان ئې په متن کښې لټول اسان شوي دي.

د طلب شاه دیوان: دا دیوان په پېښور کښې دانش خپرندویه ټولنې د استاد همېش په تدوین خور کړی دی، چې متن ئې د واحدې نسخې له مخې مرتب شوی دی. د دیوان په مقدمه کښې د نسخې تعارف نۀ دی شوی، خو د حصول ذریعه ئې ښودلې شوې ده، د مدون وینا ده چې: دا دیوان ما په کال ۱۹۸۵ء کښې د ښاغلي شېرشاه ترخوي نه د مطالعې دپاره غوښتی ؤ. وروستو بیا د دۀ په خوښه او اجازه ما ترې یو نقل واخیست، چې دا دی اوس ستاسو په لاس کښې دی. دا دیوان په دغه وجه هم پوره نۀ دی، چې د سر پاڼې ئې ضائع شوې دي" (۳۶)

د علي خان دیوان: دا متن دانش خپرندویه ټولنې د استاد همېش د تقریظ او ډاکټر راج ولي شاه خټک له سریزې سره چاپ کړی دی، چې د متن ماخذ پکښې نۀ دی ښودلی شوی او نۀ ورله فرهنګ مرتب شوی دی.

د رحمان بابا کلیات: دا کلیات د حنیف خلیل په تدوین دانش خپرندویه ټولنې نشر کړی دی، چې متن ئې د چاپي نسخو له مخې تهیه کړې شوی دی او د مدون د وینا تر مخه د دې متن بنستیز نسخه هغه ده کومه چې محکمه ثقافت چاپ کړې ده. (۳۷) د دې متن د ډېرو حاشیو اطلاعات درست نۀ دي.

د کـاظم خـان شـېدا دیـوان: دا دیـوان هـم دانـش خپرندویـه ټـولنې د حنیف خلیل په تدوین خپور کړی دی.

دسـتارنامه: دغـه تراوسـه د دسـتارنامې اخـري چـاپي اېډیشـن دی، چـې د محترم ډاکټر یار محمد مغموم خټک په تدوین د چاپ د مرحلو نه تېر شوی دی.

پـه ۲۰۰۶ء کـال کښـې دانـش خپرندویـه ټـولنې د مهـین د رابعـه او بکتـاش مـتن د زلمـي هیـواد مـل پـه تـدوین پـه ځـانګړې بڼـه چـاپ کـړی دی. دغـه مـتن د مصنف پـه تـذکرۀ ابـرار نـومې اثـر کښـې راغلـی دی، چـې مـدون ئـې مـتن د بـېلا بېلـو څلـورو خطـي نسـخو (د کابـل نسـخه، د ډیلـي نسـخه او د پښـتو اکېـډمۍ د کتـاب خـانې دوه نسـخې) لـه مخـې ترتیـب کـړی دی او د ډیلـي نسـخه ئـې اساسـي نسـخه ګڼلـې ده(۳۸) د مـدون د وېنـا ترمخـه د رابعـه اوبکتـاش د داسـتان دا مـتن څـوارلس کالـه د مخـه تهیـه کـړې شـوی ؤ او هغه وخت په سپېدې مجله کښې خور شوی ؤ.

پـه ۲۰۰۷ء کـال کښـې د افغانسـتان د اطلاعـاتو او فرهنـګ وزارت "د رحمـان بابـا دیـوان" نشـر کـړی دی. د دې دیـوان پـه بـاب وئیلـي شـوي دي چـې: "د رحمـان بابـا دغـه دیـوان چـې د اطلاعـات او فرهنـګ وزارت ئـې خپلـو هیوادوالـو تـه ډالـۍ کـوي، لـومړي ځـل د پښـتو ټـولنې پـه زیـار پـه ۱۳۵۲ لمریـز کـال کښـې چـاپ شـوی چـې لـه پینځـو چـاپي او ۱۲ قلمـي نسـخو څخـه پکښـې اسـتفاده شـوې ده. " (۳۹) خـو دې موجـوده مـتن نـه ټـولې حاشـیې هـم حـذف کـړې شـوي دي او د محمـد عـارف غـروال ترتیـب کـړې ویـې پانګـه هـم. دغسـې پـه هـم دغـه کـال مـیهن خپرندویـه ټـولنې هـم یـو مـتن "د عبـدالرحمان بابـا کلیـات" پـه نـوم خپـور کـړی دی، چـې د هغـې د مـتن پـه بـاب هـم دغـه دعـوىٰ شـوې ده. خـو د دې کلیـات حـال د برنـي ذکـر شـوي دیـوان نـه هـم بـدتر دی، ځکـه چـې د مـتن سـره نـۀ خـو د اسـتاد حبیـب الله رفیـع مقدمـه راغلـې ده او نـۀ د محمـد عـارف غـروال لیکلـی د مـتن د نسـخو تعـارف او فرهنـګ. د مـتن څخـه د حاشـیو حـذف د دغـو نـه پرتـه دی. پکـار وه چـې مـذکوره دواړو ادارو د دغـو ناتمـامو متونـو د خپرؤلـو پـه ځـای د پښـتو ټـولنې د ۱۹۷۷ء چـاپ دیـوان عکـس خـور کـړی وی، نـو دا قـدم بـه زیـات ګټـور او بختـور ؤ، ولـې چـې د ۱۹۷۷ء مغتـنم چـاپي مـتن اوس نـۀ مونـدی کېـږي. پـه ۲۰۰۸ء

کښې یونیورستي پبلشرز پېښور د عبدالقادر خان خټک ترجمه د څلوېښتو حدیثونو حنیف خلیل په تدوین نشر کړې ده چې مقدمه او متن د واړو کښې ئې بې احتیاطۍ، تناقض او تېروتنې تر سترګو کیږي.

په ۲۰۰۹ء کال کښې یونیورستي پبلشرز پېښور د میرعبدالله سواتي دیوان د جامِ محبت په نوم د پښتو اکېډمۍ د کتابخانې د یوې واحدې نسخې له مخې خور کړی دی، چې مدون ئې محترم قمر صحرائي دی او په هم دغه کال د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د استاد حبیب الله رفیع په سمونه او څېړنه د واصل روښاني الف نامې هم نشر کړي دي، چې متن ئې د "بیانات افغاني" څخه استخراج شوی دی(۴۰) دغه الفنامې ټولې درې دي، چې وړومبی په کابل مجله کښې چاپ شوې وې او اوس په کتابي بڼه خپرې شوې، د متن مقدمه په علمي او ادبي حوالو وقیعه ده او د روښاني ادب، علم الحروف، پښتو الفنامو، الف بائي فالنامو او واصل روښاني په باب پکښې مفصل او مستند معلومات راغلي دي.

په دې مقاله کښې چې د پښتو د تدوین شوؤ متونو کوم مختصر تاریخي پسِ منظر بیان شو. په دغه کښې کۀ یو اړخ ته د تدوین اعلی نمونې ذکر شوې نو بل اړخ ته د داسې متونو یادؤنه پکښې هم وشوه چې د تدوین معیار ئې دومره ښۀ نۀ دی او دا ځکه چې د تدوین کارونه د ډېر دقت، توجه او احتیاط تقاضه کوي، ځکه نو لازم ده چې دا کار هغه تنان وکړي، چې مذکوره تقاضې پوره کولی شي، او د تدویني کارونو د ستونزو، ربړو او متن څېړنې د اصولو او شرائطو نه خبر وي او ورسره ورسره په هغو اوصافو هم متصف وي، کوم چې د یو مدون له پاره ټاکلی شوي دي.

**نوټ**: دا مقاله زما د پي ایچ ډي تهسیز د وړومبي باب یوه برخه ده، چې اضافې او نظر ثاني پرې شوې ده- په دې مقاله کښې چې د کومو متونو یواځې یادونه شوې ده، د متن څېړنې د اصولو په رڼا کښې د هغو تفصیلي جائزه، زما د تهسیز په نورو برخو کښې په خپل خپل ځای اخستې شوې ده.

# حوالې

۱- غـروال، محمـد عـارف، د رحمـان بابـا ديـوان، پښـتو ټولنـه، کابـل، ۱۳۵۲ هـ ش، مخ21

۲- عبـد السـلام زيـارتی، ديـوانِ حـافظ الپـوري، حجـازي پـريس، لاهور، ۱۹۴۰ء،مخ ۷

۳- هيـواد مـل ، زلمـی ، (د سـر خبـرې) اسـماء الحسـنٰی د ميـا فقيـر الله جلال ابادي، د فلا لوژي پوهنځی، کابل، ۱۳۵۹ هـ ش،مخ ج

۴- بېنـوا ، عبـدالرؤف، دپيـر محمـد کـاکړ ديـوان، پښـتو ټولنـه، کابـل، ۱۳۲۵هـ ش،مخ ۱۴۱

۵- خيـال بخـاري، ديـوانِ معـز الله خـان مهمنـد مسـمٰی بـه ائينـه معنٰـی نما ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، پېښور، ۱۹۵۸ء، مخ ۴۲

۶- همـېش خليـل، ديـوانِ هجـري، دار التصـنيف، پېښـور، ۱۹۵۸ء، مخ ب.

۷- همېش خليل، ديوانِ سعيد ، دار التصنيف، پېښور، ۱۹۵۸ء،مخ ا

۸- همـېش خليـل، ديـوانِ سـعيد ، دار التصـنيف، پېښـور، دوېـم ځـل، ۱۹۲۴ء، مخ پ

۹- همـېش خليـل، ديـوانِ حسـين، پبلـک ارټـس پـريس، پېښـور، ۱۹۵۸ء، مخ ع

۱۰-همـېش خليـل، ديـوانِ قنبـر علـي خـان، دار التصـنيف، پېښـور، ۱۹۲۰ء، مخ ۵

۱۱-عبـد القـادر، مولانـا (يادؤنـه) ګلدسـته، پښـتو اکېډمي پېښـور يونيورسټي، پېښور، ۱۹۲۱ء، مخ ۱۱

۱۲-خيـال بخـاري (مقدمـه) ګلدسـته، پښـتو اکېډمي، پېښور، ۱۹۲۱ء مخ ۲۴

۱۳-عبد القادر، مولانا (پېژندګلو) دیوانِ خواجه محمد بنګش، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، پېښور، ۱۹۲۵ء، مخ ۳

۱۴-رشتین، پوهاند، د خوشحال رباعیات، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۴۹ هـ ش، مخ الف

۱۵-رشتین، پوهاند، د خوشحال رباعیات، مخ الف

۱۶-رشتین (سریزه) دحمید نېرنګ عشق، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۴۹هـ ش، مخ الف ب

۱۷-پولاد، سید ال شاه، دکتور (یادؤنه) د واصل روښاني ځو شعرونه، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵۳ هـ ش، مخ هـ

۱۸-دیوان عبد الرحمان بابا، رحمان ادبي جرګه، پېښور، ۱۹۷۷ء، مخ ژ

۱۹-رفیع، حبیب الله، معرفة الافغاني، ننګرهار مجله، کابل، ۱۹۷۷ء، مخ ۳۵

۲۰-دوست، د صدیق دیوان، د افغانستان د علومو اکاډیمي د ژبو او ادبیاتو انسټیټیوټ، کابل، ۱۳۵۸ هـ ش، مخ الف

۲۱-دوست، د صدیق دیوان، مخ ب

۲۲-افضل رضا او شهلا میر نواز، پښتو کتابیات، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، پېښور، ۲۰۰۲ء، مخ ۲۲۳

۲۳-هیواد مل، زلمی، د حاجي جمعه خان بارکزي دیوان،دافغانستان دعلوموااکاډیمي، کابل، ۱۳۶۰هـ ش، مخ ۳۰

۲۴-غروال، محمد عارف، د حبیب الله دیوان، د افغانستان د علومو اکاډیمي، کابل، ۱۳۶۰ هـ ش، مخ ۱۵-۱۶

۲۵-هیواد مل، زلمی، نافع المسلمین د نور محمد غلجي، د کلتور ریاست، کابل، ۱۳۶۳ هـ ش، مخ ۷

۲۶-قلندر مومند، د محمدي صاحبزاده دیوان، د چاپ ځائې، پېښور، ۱۹۸۵ء، مخ ط

۲۷-رفیع، حبیب الله، ورک زوی څنګه پیدا شو؟، امان کتاب، پېښور، ۱۳۶۴ هـ ش، ۱۹۸۵ء مخ ۳۱

۲۸- هیواد مل، زلمی، د هجري منتخبات، د قومونو او قبایلو وزارت د نشراتو او تبلیغاتو ریاست، ۱۳۲۴ هـ ش، مخ ن
۲۹- هیواد مل، زلمی، د متن څېړنې مېتودولوژي، د افغانستان د علومو اکاډیمي، کابل، ۱۳۶۹ هـ ش، مخ ۲۲
۳۰- ځدران، عبدالرحیم ، د ملا لتاړ دیوان، د افغانستان د علومو اکاډیمي د خپرونو ریاست، کابل، ۱۳۶۷ هـ ش، مخ ۹
۳۱- افضل رضا او شهلا میر نواز، پښتو کتابیات، مخ ۲۱۴
۳۲- درویش درانی، د عبد العلي اخوند زاده دیوان، پښتو اکېډیمي بلوچستان، کوئټه، ۱۹۹۲ء مخ ۸
۳۳- همېش خلیل، د نامِ حق پښتو منظومې ترجمې څو پاڼې، آرټ سنټر پرنټرز، پېښور، ۱۹۹۲ء مخ ۲
۳۴- رفیع، حبیب الله، ساعتنامه د خوشحال خان خټک، ملت پریس، لاهور، ۱۳۸۰ هـ ش، ۲۰۰۱ء، مخ ۷
۳۵- هیواد مل، زلمی، د نواب محبت خان دیوان، د افغانستان د علومو اکاډیمي، کابل، ۱۳۸۴ هـ ش، مخ پنځه پنځوس
۳۶- همېش خلیل، د طلب شاه دیوان، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۵ء، د مخ پېل
۳۷- حنیف خلیل، د رحمان بابا کلیات، دانش خپر ندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۵ء، مخ ۴۲
۳۸- هیواد مل، زلمی، رابعه او بکتاش د مهین، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۵ ل /۲۰۰۶ء، مخ ۲
۳۹- خرم، عبد الکریم (یادښت) د رحمان بابا دیوان، اطلاعات او فرهنګ وزارت، کابل، ۱۳۸۶ لمریز، مخ ۱
۴۰- رفیع، حبیب الله، الفنامې د واصل روښاني، د اطلاعات او فرهنګ وزارت، کابل، ۱۳۸۸ هـ ش /۲۰۰۹ء، مخ ۲۹